# د عربي تورو مفغنات

## (Semantic and words change from Arabic to Pashto)

فقیر محمد فقیر[*]

ډاکټرا باسین یوسفزی[♦]

**Abstract:**

Every language have four parts which are archaic words, pure, borrowing and new words. Borrowings especially adoption are the special type of words formation. It is the need of language to adopt words for expressions because new inventions, ideas and terms come in any language with their names. With the passage of time some words converts their meaning or structure. This conversion of other language in Pashto could "Mufaghan" these words come from adopted words, but became the part of Pashto, like pure words. In this article I discussed those words which changed, structurally and semantically from Arbic into Pashto.

**Keywords:**Borrowing, inventions, passage, adopted, semantically

ددنیا د هرې ژبې دا خاصیت دی چې د ضرورت له مخې د مقصد او غرض د افادې د پاره د نورو ژبو نه لغتونه او اصطلاګانې اخلي او په ژبه کښې معنویت او مقصدیت پېدا کوي. هم د ژبو په دې ورکړه راکړه د ژبې لمن کښې وسعت پېدا کېږي او د مفهوم په ادائېګۍ کښې اسانۍ ته لاره هواروي. د جدید سائنسي، اقتصادي او د ګلوبلائزېشن د پر مختګ په دې دور کښې څنګه چې انساني رابطې او تړون زیات شوی دی دغسې د ژبو په یو بل انحصار او اثر هم ډېر شوی دی ځکه چې د ژبې او معاشرې تعلق د نوک اورۍ دی. ژبه معاشرتي عمل دی او د معاشرې سره سم زغل کوي. د معاشرتي ضرورتونو د اړتیا په پس منظر کښې د رابطې په وجه ژبه هم د بدلون او تغیر سره مخ کېږي او مستعار لفظونه هم مخې ته راځي. د ضرورت او اهمیت تر مخه خپل کردار لوبوي.

دغه مستعار یا دخیل لفظونه د وخت تېرېدو سره سره کله لفظي، معنوي، یا دواړه قسمه تغیر ومومي او د ژبې سرمایه کښې د اضافي سبب شي. د ژبې جوړښت، پېداوښت او بدلون فطري عمل دی. د قومونو، معاشرت، تهذیب، ثقافت، چاپېرچل او د جغرافیائي یا خاورې اختلاف او بدلون په اثر کښې هم د لفظونو معنې او شکل کښې یا دواړو صورتونو کښې کمې زیاتی مخې ته راځي. دغه بدلون که پښتو ژبه کښې د بلې ژبې لفظ سره پېدا شي نو مفغن ګڼلی شي. که فارسۍ ژبه کښې د خپل توري سره دغه عمل وشي نو مفرس او عربي ئې معرب بللی شي.

پروفېسر غازي علم الدین لیکي:

---

[*] Lecturer,Pashtoonkhwa mutaleati markaz,University of bacha Khan,Charsada

[♦] Assistant Professor,Department of Pashto,Islamia College,Peshawar

”یہ ایک فطری عمل ہے۔ کہ الفاظ ایک زبان سے دوسری زبان میں منتقل ہوتے وقت اپنے اصل معانی اور مفاہیم بدل لیتے ہیں۔ اس کا سبب لسانی انجذاب، قوموں کا اختلاط، طرز معاشرت، ثقافتوں اور موسموں کا اختلاف ہو سکتاہے۔“ (۱)

**ژباړه**: دا یو فطري عمل دی چې توري له یوې ژبې بلې ته اوړي نو خپله اصلي معنا او مفهوم هم بدلوي ـ د دې سبب لساني، جذب، د قومونو ګډون، د معاشرې انداز د کلتور او موسمونو اختلاف کېدی شي ـ

مفغن توري د دخیل د خېتې نه زېږي او لفظي، معنوي یا صوتي بدلون مومي او په خپل اصلي شکل کښې هم پاتې کېږي ـ دخیل هغه وي چې په یوه ژبه کښې د ویونکو په خوله شي او د رواج موندلو باوجود خپل اصلي حالت برقرار ساتي ـ

ډاکټر شوکت سبزواري لیکي:

”دخیل سے مراد اجنبی الفاظ جو اردو نے کسی زبان سے مستعار لے کر اپنائے اور اردو میں اردو الفاظ کی حیثیت سے عام طور پر استعمال ہو رہے ہیں۔ دخیل الفاظ کے لیے اپنانا ضروری ہے۔ جب تک یہ اجنبی الفاظ عام طور سے استعمال نہ ہوں۔ زبان میں اچھی طرح رچ پچ نہ جائیں اور دوسرے الفاظ کے ساتھ گھل مل کر ایک نہ ہوں۔ انھیں دخیل الفاظ کا درجہ حاصل نہ ہو گا “ (۲)

**ژباړه**: د دخیل نه مراد هغه پردي توري دي چې اردو له یوې ژبې پور کړي دي او په اردو کښې د اردو په حېث عام پکارېږي ـ ځکه چې دخیل تورو د پاره چلېدل یا د ژبې حصه جوړېدل ضروري دي ـ تر څو چې دغه پردي توري د عام استعمال حصه نه شي او د ژبې اصلي تورو سره ګډون ونه کړي ـ د دخیلو تورو مقام نه شي تر لاسه کولی ـ

یوې ژبې ته مستعار دخیل یا د بدلون په شکل کښې د لفظونو داخلېدل او د هغې حصه جوړېدل په هغې کښې تغیر او تبدیلي یواځې د انسان د خپلې خوښې ناخوښې په نتیجه کښې نه وي ـ دا یو فطري عمل دی، او د ارتقائي سفر او ارتقاء وجه هم ده ـ د دې بدلون مخه نیول د وس خبره نه ده ـ ژبه هم په دغه عمل کښې پېدا کېږي ترقي کوي ـ ځني توري د ارزښت د ختمېدو په وجه متروک شي یا معنا هم بدله کړي او کله کله د معنې او مفهوم د پاره نوي هم جوړېږي ـ

روف یاریکھ لیکي:

”زبان بدلتی رہتی ہے اور اس میں نئے نئے الفاظ شامل ہوتے رہتے ہیں۔ پھر لفظ معنی بدلتے بھی ہیں اور کبھی کسی لفظ کے کوئی ایک معنی متروک ہو جاتے ہیں اور کبھی کسی لفظ کے نئے معنی وقت کے ساتھ ساتھ رائج ہو جاتے ہیں۔“ (۳)

**ژباړه**: ژبه بدلېږي او نوي نوي توري پکښې شاملېږي کله کله توري معنې هم بدلوي ـ کله کله د یو توري یوه معنا متروک هم شي او داسې هم کېږي چې یو توری د وخت سره نوې معنا اختیار کړي ـ

د ژبې د بدلون په اړه عبدالله بختاني خدمتګار ليکي:

"ځنې الفاظ په يوه ژبه کښې يوه او په بله ژبه کښې بله معنا ورکوي. لکه (کور) چې د فارسۍ (کور) ته په پښتو کښې (ړوند) او د پښتو (کور) ته په فارسۍ کښې (خانه) وائي. دا کله تصادف وي او کله د الفاظو ريښې او تاريخونه جدا وي او کله د تېرو پېړو په پوړيو کښې دغه لفظ يوه معنا ولري او ورو ورو د خوېندو ژبو په رازېږېدو، غوړېدو او بېلېدو کښې د هغه يو لفظ معنې ګانې، سره بيلې شي. الفاظ هم کله لږ او کله ډېر توپير ومومي." (۴)

دغه د معنو صوتي يا لفظي بدلون چې په پښتو ژبه کښې راشي نو مفغن يعني افغاني کړې شوی ګڼلی شي. په لفظونو کښې د دغه قسمه تغبيراتو ادلون بدلون وخت سره سره کېږي. د حالاتو او معاشرتي ضرورتونو او تقاضو مطابق په ژبه کښې فراختيا پېدا کېږي. د معنې او مفهوم پوره کولو ضرورت هم تر سره کوي. مفغن د ژبې هغه حصه وي چې د يو ژبې اصلي تورو سره هم سري کوي او پردي نه حسابېږي.

"په پښتو قاموسونو کښې د دې ژبې تر سپېځلو او دخيلو وروسته، پښتو شوي يا مفغن ټکي ډېر لوی ځای لري. مفغنات يا پښتنې کټو کښې ايشيدلي کليمې، هغه ټکي دي چې په پښتنې ټولنه کښې ئې خپل ورډۀ تابعيت پربسنټ له ښکلي او معنوي پلوه لږ يا ډېر بدلون موندلی دی، او اوس د پښتو ژبې د لغوي زېرمې ډېر ارزښتناک او نه جدا کېدونکی برخه ده." (۵)

ژبه د ضرورت سره سمه د معنې د بدلون سره مخ کيږي چې ژبه کښې د جدت سبب ګرځي. دغه سبب فطري وي او دې د پاره څوک شعوري هڅې که نۀ هم کوي نو دغه سلسله به جاري وي. په معنا کښې بدلون اتفاقي هم کېدی شي د تهذيبي ارتقاء او تغير سره هم.

مفغن په درې قسمه دي يو لفظي بل معنوي او کله کله دواړه قسمه وي.

"معنوي مفغن: مغنوي مفغن هغه وي چې يو توری په دخيل صورت کښې يوې ژبې ته داخل شي. لفظي شکل ترکيب او ترتيب ئې هم هغه وي خو په معنا کښې ئې بدلون پېدا شي. په هره ژبه کښې د يو توري د معنيو بدلون د تعجب خبره نه ده. دغه يو روان عمل دی. د معنې بدلون ته ډاکټر شوکت سبزواري تدبهو او دخيل ته تت سم وائي" (۶)

د معنې بدلون هره ژبه د خپل مزاج مطابق کوي. معنوي بدلون د چاپېرچل، معاشرتي ژوند او اړيکو د بدلون په وجه کېږي.

صديق الله رښتين ليکي:

"هغه چې چرته له کوم لفظي بدلون څخه په یوه ژبه کښې استعمالیږي خو معنوي بدلون پکښې راغلی وي ـ لکه (عنوان، منت، کسر، غریب) چې عنوان په عربۍ کښې د مقالې سر لیک دی ـ ولې پښتو کښې د تکبر او غرور معنا افاده کوي ـ هم دا رنګه منت په عربي د احسان او ښېګړې په معنا دی ـ خو پښتو کښې د قهر، غوسې او توبیخ په معنا استعمالیږي ـ"(۷)

د معنوي مفغن مثالونه دا دي:

له عربۍ نه مغنوي مفغن توري:

| لفظ | معنا | مغفن معنا |
|---|---|---|
| بشر | ظاهري بدن | انسان د پاره، ټول بدن |
| طعن (طعنه) | په نېزه زخمي کول | پېغور، ملامت، ذلیل کول |
| ادنٰی | ډېر نژدې | کم تر، ذلیل، حقیر، کم ذات |
| اثر | د قدم نخښه | فائده، حاصیت، نخښه |
| ارشاد | هدایت کول | وېنا، حکم، فرمان |
| اشتغال | مصروفیت، مشغولا | غصه، پارول |
| الزام | واجب کول | تهمت، بدنامي |
| افواه | د فوه جمع خوله | غلط خبر، دروغ، کنګوسه |
| انکسار | ټکړې کېدل، ماتېدل | عاجزي، |
| احتجاج | دلیل | اعتراض، مخالفت |
| تکرار | دوباره کول | جګړه، بحث |
| خیرات | نیکي | سخاوت، د الله په لار کښې ورکړه |
| تاثیر | دباو | اثر |
| تخلص | جدائي، بېلتون | قلمي نوم |
| رقیب | نګهبان | حریف، مخالف، مقابل، دشمن |
| عریب | مسافر | مفلس، نادار، بې وسه |
| عرصه | مېدان، صحن | مدت، وخت |
| عنوان | سرلیک | تکبر، (افغانیان) |
| صلاح | نیکي | مشوره |
| منت | احسان | خوشامد، زاري |
| ملک | باچا | د کلي مشر، د زمکې دمالیې ټولونکی |
| کسر | ماتول | عېب، نقصان، حرابې |

| | | |
|---|---|---|
| قرينه | بڼځه، ملګرې | طريقه، اندازه |
| همت | خواهش، اراده | حوصله، کوشش، محنت |
| غور | ژورتيا، کنده | فکر، سوچ، خيال |
| عزيز | طاقتور، غالب | رشته دار، محبوب، دوست، |
| موقف | د ايساريدلو مقام | فېصله، خيال، دريځ، نقطه نظر |
| ديوان | رجستر، کاپي | شعري کلام الف بائي ترتيب سره |
| حريف | هم پېشه | دشمن، مقابل، بدخوا |

**لفظي مفغن**: لفظي مفغن هغه وي چې د معنې له رويه هېڅ قسمه بدلون او تغير نه لري خو د توري په شکل او جوړښت کښې کمې زياتې لري۔

رښتين ليکي:

"هغه دي چې په معنا کښې ئې تغير نه وي راغلی مګر په لفظ کښې ئې بدلون راغلی او شکل اوښتې وي دې قسم ته لفظي مفغن ويل کيږي" (۸)

| عربي لفظ | لفظي مفغن صورت | عربي | مفغن |
|---|---|---|---|
| بيعه | بيه | فوج | فوځ |
| بيعانه | بيانه | مثل | متل |
| احتياط | اتيات (افغانيان) | طاق | طاخ |
| فنا | پناه | باق | باک |
| سحر | سهار | عمل | امل |
| معصوم | ماشوم | فتنه | پتنه |
| عصا | امسا | صلح | سوله |
| صباح | سبا | زکوٰة | زکات |
| ميراث | ميراث | جماعت | جومات |
| قميص | کميس (افغانان) | جناح | ګناه |
| بدرقه | بدرګه | | |

ځني لفظونه په تلفظ کښې هم فرق لري لکه

| سم تلفظ | غلط |
|---|---|
| خِزانه | خَزانه |
| خَليه | خُليه |
| سُفارش | سِفارش |

شُعور شَعور
سُوال سَوال

ځني توري داسې هم دي چې لفظي او معنوي دواړه قسمه بدلون لري خو دا قسمه توري په پښتو کښې د نیشت برابر دي او په ګرانه څو نمونې پېدا کېدی شي لکه

| لفظ | معنا | مفغن صورت |
|---|---|---|
| عورت | د بدن هغه ځای چې پټول ئې ضروري وي | اورته<br>د کور ودانې یعني نکاح کړی ښځې په معنا |
| نعره | اواز | ناره<br>د مور او پلار د خوښې نه بغېر په یوې جینۍ د چنغلې دعوه لرل یا اواز کول، شعري صنف |

مفغن توري که په دغه ذکر شوؤ قسمونو کښې هر قسم سره تعلق ولري، په بنیادي توګه دخیلو تورو نه د زېړون په نتیجه کښې وجود مومي۔ مفغن توري که هر څو د بلې ژبې د ورکړې په سبب د ژبې حصه جوړېږي، خو په هېڅ صورت پردي ګڼل نه دي پکار او د خپلې ژبې حصه شمارلی شي۔ ځکه چې د ژبې خالص توب څه د کمال خبره نه ده او نه په دنیا کښې چرته خالصه او سوچه ژبه وجود لري۔ او بیا په خصوصیت سره مفغن توري د پښتو ژبې د قاعدو، اصولو او معیار مطابق پښتو کړی شوي توري دي۔ دا مفغن توري د ژبې د معیار او مزاج مطابق د وخت په تېرېدو سره ژبه کښې خپل ځای مومي او لغوي پانګه کښې د زیاتون سبب ګرځي۔

# حوالې


1. علم الدین، غازی، لسانی مطالعه (اشاعت دوم) فیصل اباد، مثال پبلشرز، ۲۰۱۵ء، ص ۸۶ ۔
2. سبزداري، شوکت، ڈاکٹر، اردو لسانیات، کراچی، ترقی اردو بورڈ ۱۹۶۶ء ص ۱۵۵ ۔
3. پارلکھ، روف، علم لغت، اصول لغت او لغات، کراچی فضلی سنٹر ۲۰۱۷ء ص ۱۲
4. خدمتگار، عبدالله جان بختانی، سر محقق، پښتو پالنه اور بڅېړنه، پېښور، دانش خپرندویه ټولنه، ۲۰۰۵ء، مخ ۱۶۷ ۔
5. شعشعي، محمد هارون، د نوي قاموس لیکنې میتودو لوژی ته یوه کتنه، ۲۰۰۹ء، مخ ۲۲ ۔
6. سبزواري، شوکت، ڈاکٹر ، داستان زبان اردو ، کراچي، انجمن پریس، ۱۹۶۰ء، ص ۲۴
7. رښتین، صدیق الله، پوهاند ، پښتو ګرامر، پېښور، یونیورسټي بک ایجنسي، ۱۹۹۴ء، مخ ۴۱۰ ۔
8. رښتین، صدیق الله، د پښتو اشتقاقونه او ترکیبونه، دوهم چاپ، ساپي پښتو څېړنو او پراختیا مرکز، ۲۰۰۴ء، مخ ۳۱